# دا داسې يوه دنده ده چې د ترسره

# کولو ارزښت لري

## ايا تاسو کله هم د ان ګاردا شيخانا سره د مسلک په اړه فکر کړی؟

ان ګارډاشيخانه ( پوليس) د پراخه مهارتونو لرونکو درخواست کونکو په لټه کې دي - موږ هغه مهارتونو ته اړتيا لرو چې تاسو يې لرئ. مونږ تاسو او د مختالفو مسلکونو لرونکي خلک هڅوو چې زمونږ سره يوځای شئ ترڅو مونږ وکولی شو چې د ټولو هغو ټولنو ښه استازيتوب وکړو چې مونږ يې خدمت کوو. موږ د هغه تنوع په لټه کې يو چې تاسو يې استازيتوب کوئ.

## زه ولې بايد د ان ګاردا شيخانا سره

## يوځای شم ؟

مثبت توپير

د اړيکو جوړول

رقابتي معاش

روزنه او فرصتونه

د پوليسودنده ترسره کول د ځانګړو مطالبات سره يوه په زړه پوری دنده ده. دا يو ننګونکی او په زړه پوری رول دی او په دوامداره توګه نوي او په زړه پوري تجربې وړاندې کوي.عصري پوليس د جرمونو د مخنيوي په پرتله ډير څه ته اړتيا لري. د جرمونوڅخه ويره کمول او د ټولنو سره همکاري هغه غوامل دي چې کولی شي د ټولو اتباعو د ژوند د کيفيت په ښه کولو کې مثبت بدلون راولي.

د ان ګارډا شيخانا په توګه به تاسو په لومړی کرښه کې کار وکړئ، د قربانيانو او شاهدانو ملاتړبه ترسره کوی ، ډاډ به ورکوئ، او باور به رامنځته کوئ. همدارنګه تاسوبه په داسې يو موقف کې هم ياست چې په فعاله توګه د خپلې سيمې په ښه والي کې مرسته وکړئ، او په ټولنه کې اړيکې او بارو رامنځته کړئ.

ستاسو روزنه به تاسو ته ټول هغه وسايل او ړتياوې درکړي چې تاسو ورته اړتيا لرئ او د يوې مخ په ډيريدونکي متنوع ټولنه کې د پوليسي دندې او وظايفو ترسره کولو لپاره اړين وي. دپوليسی دنده کول طبعاً د امتيازاتو لرونکی ده او تاسو به هم رقابتی معاش او ښه تخصيصونه ترلاسه کړئ.

د زده کړې مرحلې ته د رسيدو لپاره تاسو بايد د انتخاب کولو له يوې سختې پروسې څخه تير شئ، کوم چې د دې ارزولو لپاره ډيزاين شوی چې ايا تاسو د ګارډا شخانا ته د بريالي کيدو لپاره اړينې ځانګړتياوې لرئ او کنه.

په پوليسو کې مسلک په مختلفو برخو کې د کار کولو فرصتونه وړاندې کوي، په شمول د عادي د پوليس دندې يا نور ځانګړي واحدونوکې لکه د ټولنې پوليس، د سړکونو پوليس، عامه نظم، د کشفي دندې، د تنظيم شويو جرمونو په اړه تحقيق کول، درغلی، او د مخدره توکو جرمونه.

ان ګارډا شيخانا د داسې يو پوليسي خدمت رامنيځته کولو ته ژمن دی چې په آيرلينډ کې د ټولو بيلابيلو ټولنو بشپړ استازی وي، او په فعاله توګه ټول په شرايطو برابر نوماندان هڅوي ترڅو غوښتنليکونه‌ورکړي.

### د وړتيا او انتخاب معيارونو په اړه د نورو معلوماتو او کوډ سکين کړئ QR توضيحاتو لپاره ، مهرباني وکړئ د